AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم ګل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۱۹

# ماشومان او مینان

د سرې میاشتې دروازه کې
ډیر ماشومان راټول دي
دوی مرسته نه غواړي،
د زړونو تداوي یې مقصد
زړونه یې سوري دي،
غواړي بیرته جوړ شي
سره میاشت پیسې نه لري
چې په زړه سوري ماشومان بیرته جوړ کړي
سره صلیب ژمنه کړې
چې بیا هم مرسته وکړي
چې په زړه سوري ماشومان جوړ شي بیرته
ماشومان خوښ دي، امیدواره ښکاري
خو هلته لیرې ناامیده مین
چې زړه یې سوری د کومې ښکلې د بنو غشو دی
څومره نهیلی ولاړ
داسې څوک نشته چې یې رنځ وپوښتي
داسې څوک نشته چې د سوري زړه تداوي یې وکړي!

علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ